# د پښتو ژب پوهنې له پاره یو څو کلمې

په ابتدایي ژبو کي ځیني کلمات موجود وي چي د ژبي تر علمي پرورښت او جوړښت دمخه هغه کلمات په غیر مرتب او نامعین ډول په مختلفو مواقعو کي استعمالیږي، مګر کله چي ژبه په علمي ډول ترتیب او تر روزني لاندي راسي نو پوهان هغه کلمات پر خپل خپل ځای باندي د یوه خاص مفهوم له پاره وټاکي، او په داسي ډول هغو وحشي کلماتو ته مانوس او مدني مفاهیم ورکي چي تر تداول او استعمال وروسته یې خلك له هغو مفاهیمو سره آشنا او هغه کلمات په مدني اړتیاوو کي د خلکو په درد وخوري او احتیاج یې ور پوره کي.

مثلاً په پښتو کي له قدیمه د (نون) ادات د ظرفیت له پاره موجود وه، مګر د خلکو غوږونه ورسره آشنا نه وه، او کله چي موږ لومړی پلا دغه ادات په نوو نومو کي استعمال کړل، ځینو خلکو نه مانه، او انتقاد یې پر کاوه، مګر وروسته چي په پوهنتون او روزنتون او درملتون او نورو کي استعمال سوه، اوس ګورو چي خلك یې په ډېره مینه استعمالوي او ډېر مانوس او آشنا ښکاري.

د پښتو په ژب پوهنه او ګرامر کي موږ ډېرو اصطلاحاتو ته ضرورت لرو او باید د فونیم او مورفیم او کلمې او سلابیل او کلام په مقابل کي خپل پښتو کلمات او اصطلاحات ولرو، چي تر ټاکلو او استعمال وروسته دغه کلمات په علمي ډول مانوس او مفهوم سي، او خلك یې له استعماله سره آشنا سي.

له ډېره وخته موږ د پښتو ګړ د سلابیل په مقابل کي استعمالوو او د صوت او صدا له پاره ږغ یا غږ وایو او ږغپوهنه هغه ژبنی بحث بولو، چي په صوت شناسي پوري اړه لري.

په پښتنو کي دري نوري دغسي کلمې سته چي پوهان یې په ګرامري احتیاجاتو کي استعمالولای سي، او زه یې له ادبي اسنادو سره دلته
درښیم :-

د (ویل) له مادې څخه یوه کلمه په قدیم ادب کي موجوده وه چي اوس یې موږ نه وایو، مګر ممکنه ده چي دغه کلمه په ګرامري او ژبنیو مباحثو کي پر خپل ځای کښېږدو او ښه کار ځني واخلو.

(ویی) د خوشال خان په کلام کي مکرر راغلی دئ، او داسي ښکاري چي په خټکو کي دا کلمه وه، مثلاً خوشال خان وایي :-

چي به بل تر تا راتېر کړم
دا ویی لـــه زړه وباســـه

بل ځای وایي :-

یو ویی د دلاســـــا راته پرې نه ږدي
ځان که هر څو خپل مین ته مرور کړم

بیا بل ځای وایي :-

دا ویی زمـــا د راز دئ
دا منزل دور و دراز دئ

په یوه بله قصیده کي وایي :-

چي په نیم ویي یې کار کیږي د خلك
د خــلاصی مي همېشه کاندي جدال

له دې ادبي سندو څخه ښکاري چې ويی په قديمه پښتو کي د کلمې په مفهوم استعمالېده او که اوس هم په ګرامر او ژب پوهنه کي دا کلمه د مورفيم يا کلمې پر ځای وټاکو مفيده به وي.

دوهمه کلمه له دې مادې څخه (ووی) دئ، دا هم خوشال خان مکرر استعمالوي او ښکاري چې په محاوره کي هم داخله وه، مثلاً وايي :-

دا ووی مي خوښ دئ چې چا ويلی دئ
ډېر مي په زړه باندي ښه لګـــېدلی دئ

بل ځای وايي :-

دا آسمان نه دئ يو خوني پړانګ دئ
راته غړمبـــــــــيږي تلتل په بانګ دئ
خوله يې سره کړې د دارا په وينو ده
شـــفق ته ګوره دا ووی په ټانګ دئ

بيا بل ځای داسي وايي :-

دا ووی رشتيا دئ عاشـــقان نه مري
مجنون ژوندی دئ که ته يې وينې؟

په يوه بل بيت کي داسي وايي :-

شـــــــــيطان هرګوره ښايســـته روغ دئ
چې يې بد رنګ بولي دا ووی دروغ دئ

له دغو ګردو مثالو څخه ښکاري چې ووی د قدماو په ژبه کلام او جمله د انګرېزۍ سن ټنس و، او اوس هم ښايي چې موږ يې په ګرامر کي د کلام او جملې پر ځای وټاکو.

بله کلمه له همدې ريښې څخه وينا ده، چې اوس هم موږ په عامه محاوره کي د نطق په مقابل کي ټاکلې ده او اوس يې هم موږ په دغه مفهوم منو. اوس به نو دغو ژبنيو اصطلاحاتو ته داسي ترتيب ورکړو چې :-

د ژبي هغه لومړی ووړ جزو به بږغ يا (فونيم) وبولو بيا به نو د څو بږغو مجموعه يوګړ (سلابيل) وبولو، د يو يا څوګړو مجموعه به ويی يعني مورفيم يا کلمه وګڼو، او د څو کلمو او ويو مجموعه به يو ووی يعني کلام او جمله وبولو او د څو وويو يعني جملو مجموعه به وينا وبولو.

يو انسان چې خبري کوي هم اول بږغ له خولې راباسي، او بيا له څو بږغو څخه يوګړ او سلابيل جوړوي بيا نو له ګړو څخه کلمات او ويي، او له ويو څخه جملې يعني ووينه او له ووېو څخه وينا جوړوي.

د بږغ، ګړ، ويي، ووېی، وينا استعمال د اروپايي يا عربي اصلاحاتو پر ځای په ګرامر او بږغپوهنه او ژب پوهنه کي ما له مناسب ښکاري او دغه کلمات د پېشنهاد په ډول وړاندي کوم.

البته که بل څوك په ادبي او علمي اسنادو سره بل څه راوړاندي کوي، که هغه تر دغه کلماتو موزون او مستند وي بايد هغه ومنل سي، ځکه چې په داسي کارو کي تر يوه فکر او د يوه سړي تر معلوماتو د ټولني او ګڼو پوهانو فکر رسا او سم او مفيد وي[1].

[1] (۱) کندهار مجله، څلرمه ګڼه، ۳ مخ، ۱۳۴۳ ش.